# پښتو کښې نوي لغتونه

## Word formation in Pushto

Faqir Muhammad Faqir*

**Abstract**:

Neologism is a new coin words, terms or old one in new meaning which develops through development of life, New invention, phenomena, sciece and cultural context. Mas media playes important role in spreding the word formation.

* Lecturer, Pakhtunkhwa Study Centre, Bacha Khan University, Charsadda

For neologism it is necessary to take position in social life use. New words coins in languages according the need of expression.
In this paper I will discuss some process of word formation in Pushto, Pushto is one of the languages which absorbed forein words and also create new word and terms.

نیو لوجېزم یا نوي لغتونه دَ وخت اهم ضرورت دی که چرې خپله ژبه کښې نوي لغتونه جوړ نۀ کړل شي نو دَ مستعار لغاتو دَ سېلاب مخې ته دَ ژبې دَ اصلیت او سوچه توب بندونه تړل ناممکن دي. ځکه چې هره ورځ په نړۍ کښې دَ سائنس او ټېکنالوجي په مېدان کښې هم او دَ علم، ادب، سیاست او دَ ژبني عالمي تناظر او اثر دَ ترون دَلارې هم ژبه متاثره کیږي. او یو وخت داسې هم راتلدی شي چې دَ دغه ژبې ژبني یلغار له کبله یوه ژبه خپل شناخت هم بائیلي.

دې خبره کښې هم څۀ شک نشته چې یوه ژبه هم په دنیا کښې دَ خالص او سوچه توب دعوه نۀ شي کولی. په هره ژبه کښې دَ اظهار او خپل غرض بل ته رسولو کښې څلور اهم توکي دَ ژبې حصه ګرځي. په هغو کښې دَ ژبې ۱سوچه لغات ۲ زاړۀ لغات ۳ مستعار لغات ۴ نوي لغات اهم کردار لوبوي. کۀ چرې دا قسمه بدلون او ترون پرمختګ و نۀ کړي نو دَ هغې ژبې لمن به خالي پاتې شي. او دَ نړۍ ارتقا سره به دَ یون قابله پاتې نۀ شي. دَ هر مفهوم دَ اظهار نه به محرومه شي. او دغسې به خپل شناخت هم بائیلي. او دا خبره یقیني ده چې ژبې به یو بل نه اثر اخلي.

دَ هر ژوندي قام ژبه اړتیا لري چې دَ نوي مفهوم معنې او ضرورت دَ پاره نوي لغتونه وضع کړي. دَ دې دَ پاره چې ژبه ګونګه پاتې نۀ شي. دَ دغه ضرورت پوره کولو دَ پاره ضروري ده چې دَ ژبې پوهان نوي لغتونه دَ قواعدو په رڼا کښې وسنجوي. دَ ځنې خلقو خیال دی چې دَ ټکو جوړولو اختیار هر یو اهلِ زبان ته حاصل دی. او ځنې بیا دا وائي

چې صرف دَ ژبپوهنې عالمان دې دا کار تر سره کړي. کۀ دا کار هر څوک وکړي خو دَ قواعدو خیال ساتل او دَ معنې او مفهوم سره سم لغتونه راوړل په کار دي. او دَ ژبې ضرورت دی.

صدیق الله رښتین لیکي:

"نوي لغات هغه دي چې دَ ضرورت او اړتیا له مخې دَ سترو پوهانو، ادیبانو، علمي او ادبي ټولنو لخوا وضع کیږي. او په اولس کښې خوریږي."*

دَ دې مطلب دا شو چې عام خلق چې په لسانیاتو نۀ پوهیږي نو په ژبه کښې بې ځایه ګوتې وهل ورله نۀ دي په کار. دَ دې دَ پاره ادبي، علمي ټولنه خصوصاً اداره په کار ده. چې دا کار په صحیح توګه ترسره کړي. ځکه چې نوي لفظونه دَ معاشرې او ژبې دَ پاره دَ سائنس، ټیکنالوجي، تهذیب، ثقافت، اقتصاد، سیاست او عوامي تړون او دَ قومونو یو بل سره دَ رابطې په وسیله په ژبو هم اثر خامخا کیږي.

نوې څیړنې، برڅیړنې او ایجادونه دَ ځان سره نوي نومونه او اصطلاحات هم راوړي او دَ ژبې په وسعت کښې خپله برخه اچوي. موږ هره ورځ په معاشره کښې نوي نوي بدلون وینو او سماجي، تهذیبي، ثقافتي او ژبني تغیر په ذریعه دَ ژبې لمن کښې نوي رنګونه لیدلی شو. نیولوګېزم داسې نوې لغت او اصطلاح وي چې وړاندې په عامو قاموسونو کښې نۀ وي استعمال شوې او په اول ځل دَ یوې خاصې معنې او مفهوم دَ پاره استعمال شي. او یا داسې هم وي چې ټکی یا کلیمه موجود وي خو دَ نوي معنې دَ پاره استعمال شي. او دَ دې نه وړاندې بله مانا لري. دَ نوي لغت دَ قبلولو او معاشره کښې دَ عام کولو معیار دَ عام اولس سره تعلق لري.

“After being coined, neologisim inveriably undergo scrutiny by the public and by linguists to derermind their suitability to the language. Many neologisms are accepted very quickely.” *

ترجمه: کله چې نوي ټکي جوړ شي نو دَ هغې دَ قبلولو معیار اولس سره وي اؤ دَ لسانیاتو پوهان ئې دَ موقعې مطابق استعمال کوي. څۀ نوي ټکي په اسانه اؤ تېزۍ سره دَ ژبې حصه جوړېږي.

کوم لغتونه چې اولس ومني هغه قبول شي. او کومو ته چې عوامي مقبولیت او قبولیت حاصل نۀ شي. هغه خپل وجود بائیلي.

دَ ژبې سوچه توب دَ قدر وړ زیار دی. خو هغه لغتونه چې په عالمي ژبو کښې یو شان استعمالیږي هغه چېړل دَ زیان سبب ګرځي.یوه ژبه سل په سله چرته هم سوچه نشته او نۀ کېدی شي. سره دَ انګرېزۍ نورې ژبې هم په مشکله دېرش فیصده سوچه دي.

سر محقق روهي لیکي

"کۀ یوه فصیحه کلیمه چې په بېن المللي سویه استعمالیږي او یوه علمي اصطلاح چې په مهمو ژبو کښې عامه شوي وي. زموږ ژبې ته په طبیعي شکل لاره پیدا کړي. حتمي نۀ ده چې له ژبې ئې وشړو. اؤ په ځائی ئې بله کلمه اختراع کړو. "*

دَ نوو ټکو جوړولو چې څومره اهم دي نو دا هم خیال ساتل په کار دي چې ژبه شریک میراث دی نو دَ لغتونو دَ وضع کولو خیال ساتل ضروري دي. بې ځایه او غېر ضروري لاس وهنې په ځائی دا ذمه واري یوې ټولنې یا یوې ادارې ته سپارل په کار دي. چې دَ وخت تقاضو سره سمې او منظم ډول په اتفاق سره سر ته ورسول شي.

**لسانيات او نيولوګېزم**

نيو لوګېزم دَ دوو يوناني ټکو neo او logos نه وتلدی دی. چې په ترتيب سره دَ نوي او ټکي يا علم معنې لري.

دا هغه ټکي دي چې يوې ژبې ته دَ هغې دَ قاعدو او اصولو په رڼا کښې داخلېږي . دا ټکی ۱۸۷۲ء کښې باقاعده ليک کښې راغلی دی. دَ نوو لغتونو اړتيا او پرمختګ په هر دور کښې څۀ نا څۀ روان عمل دی. خو اصطلاحي او باقاعده شکل ئې وروستو موندلی دی.

"لسانیات کی بڑھتی ہوئی ترقی اور مقبولیت دوسری مضامین مثلاً طبیعات، ریاضیات، عمرانیات، نفسیات وغیرہ، کی ماہرین کو بھی اپنی طرف کھینچ رہی ہی۔ اس طرف سی اب لسانیات ایک طرف ایک ازاد اور مستقل مضمون ہی تو دوسری طرف اس رشتہ دوسری علوم سی بھی ہی"۔*

هم دغه وجه ده چې دَ لسانياتو په جوړېدو دَ نوې لغتونو رامينځ ته کېدل هم ضروري دي.

دَ نيولوجيزم او لسانياتو يو بل سره نۀ پرې کېدونکې رشته ده. دَ ترقۍ په دې جديد دور کښې دَ نوو ايجادونو، دَ نوي نظرياتو اثر چې په قومونو کيږي او نړۍ يو تر بله نزدې کيږي. دغسې دغه اثر په دَ دغه قومونو په ژبه هم کيږي. کۀ چرې يوه ژبه کښې نوي لغتونه مېنځ ته رانۀ شي نو دَ هغه قوم ژبه له مېنځه ځي. کله چې يو قوم خپله ژبه هېره کړي او دَ بلې ژبې اثر قبول کړي خپله ژبه ئې مرګ سره مخامخ کيږي او دا زيات تره په هغه وخت کښې کيږي چې يو قوم په معاشي توګه بل ته لاس په نامه شي. يا دَ حاکمۍ محکومۍ په صورت کښې دَ احساس کمترۍ په وجه خپله ژبه دَ لاسه ځي. دَ ژبې ژوندۍ ساتلو کښې دَ نوو لغتونو لوئې لاس وي. او دَ دغه نيولوګېزم او لسانياتو

کلکه رشته جوړوي. که داسې ونهٔ وشي نو يوه ژبه به دَ ډېرو څيزونو دَ معنې او مفهوم دَ بيانولو نه عاجزه پاتې شي. دنيا کښې هره ورځ څومره نوې خبرې،ايجادونه مخې ته راځي.ځان سره هغه هومره نومونه او اصطلاحات هم راوړي. هغه دَ نوي لغتونو او مستعارې ترجمې په صورت کښې يا دَ نوي لغتونو دَ نورو لارو په وسيله دَ لسانياتو لمنه کښې ځائ‌دی مومي.

## نيو لوګېزم او معاشره

ژبه چې يو لوئی نعمت دی او انسان ته ئې ځانګړی مقام ورکړی دی. دَ معاشرتي ژوند دَ اسانولو يو بل سره دَ مرستې، تړون او ترقۍ په لاره کښې موثر کردار لوبوي. دَ خيالاتو، جذباتو او احساساتو دَ ترسيل په لړ کښې کله کله عام او مروجه توري ناکامه شي. او دَ اظهار پوره معني او مفهوم ادا کولی نهٔ شي. دَ ترقۍ په دې سائنسي دور کښې چې بې شمېره نوي څيزونه او خيالونه مخې ته راځي نو دا مسئله نوره هم سېوا شي. او بې له دې نه چې نودی لغت جوړ شي يا پردې لغت خپل شي بله لاره نهٔ وي.

"نړۍ دَ نوي مدنيت په وړانګو باندې روښانه شوې ده. او مونږ دَ دغه نړۍ جز يو او دَ دغه مدنيت دَ ټولو موثراتو قبلولو ته اړ يو او يا به زر اړ شو. دَ دغه اړتيا په ترڅ کښې دَ ژوندانهٔ دَ پرمختګ په لاره کښې نوو شيونو سره مخامخ کېږو. او نورو لغاتو ته مو اړتيا پېښېږي." *

معاشرتي ژوند کښې چې کله مونږ يو نودی څيز، فکر يا مسئلې دَ اظهار ناکامۍ سره مخ شو. نو دَ مفهوم دَ افادې دَ پاره نوې لغت ته اړ کېږو او هم دَ دغه معاشرتي ضرورت له مخې نوي لغات او اصطلاحات جوړيږي او اولس کښې خوريږي.

## رسنۍ(ميډيا) او نيو لوګېزم:

کله چې نوي ټکي یا اصطلاح جوړه شي نو دَ دې دَ خوربدو اؤ قبلولو معیار دَ عوامو ژبه وي. اؤ دا هله اولس کښې خوربدی شي چې رسنۍ خپل کردار په ښه طریقه تر سره کړي. دَ ټکو په خوربدلو اؤ مشهورولو کښې دَ رسنۍ دَ کردار اهمیت واضح اؤ مسلم دی. دا ټکي دَ مجلو، ربډیواو ټي وي دَ مختلفو پروګرامونو په ذریعه په اسانه خوریږي اؤ تر عامو خلقو رسیږي

"یہ بات واضح ہیکہ صرف اصطلاحات سازی اور لفظ سازی سی زبان زندہ نہیں رہ سکتی۔ یہ اصطلاحات اور الفاظ جب تک عوامی اور علمی حلقوں کی تحریر و تقریر کا حصہ نہ بنیں اس وقت تک مطلوبہ نتائج کا حصول نہیں ہو سکتا۔ نئیالفاظ، اصطلاحات اور تراکیب کو عوامی اور علمی سطح پر لانی کی لیی نشریاتی اداری بھرپور کوشش کرتی ہیں۔ نئ الفاظ کا اس کثرت سی استعمال کیا جاتا ہی کہ پہلی مرحلی پر اجنبیت ختم ہو جاتی ہی۔ اور پھر آہستہ آہستہ یہ الفاظ زبانوں اور تحریروں میں آنا شروع ہو جاتی ہیں۔"*

دَ مېډیا اؤ ژبپوهانود نوو ټکو خورولو کښې اهم کردارپه نظر راځي. دَ ژبې پوهان نوي لغتونه جوړوي او دا په هغه صورت ډېرکیږي چې دَ دوو ثقافتونو تړون وشي یا په تهذیب او ثقافت کښې بدلون پیدا شي او کله چې میډیا دَ دغه ټکو خورولو کښې خپل موثر کردار ادا کوي نو دغه نوي لغتونه دَ ژبې حصه جوړیږي.

"Neologism are especially useful in identifying inventions, new phenomena or old idea which has taken on a new cultural context. Newlogism of become popular by way of mas media the interest or word of mouth."*

ترجمه : نوي لغتونه خصوصاً نوي ایجادات، نوې نظریې یا زړې نظریې په نوي ثقافتي طرز راوړل دي. نوي لغتونه دَ مېډیا دَ توجه په ذریعه دَ خلقو په خُلۀ عام کیږي.

هر يو لغت دَ خپل وخت نوي لغت وي. چې دَ وخت تېرېدو سره ژبه کښې عام شي او مستقله حصه ئې ورګرځي. په جديد دور کښې دَ ميډيا اهمت مسلم دی. او هم دَ دې په ذريعه په لږ وخت کښې دَ اکثريت تر غوږو دَ نوي لغتونو رسېدل ممکن شي.

> "Language specialist suggest new words often migrate into a language most with greate cultureal changes or with the integration of two cultures that speak two different languages arguably, things like social media may also have greate influence on what new words could become part of the language."*

ترجمه: په ژبه کښې دَ يو ستر کلتور دَ اثر دَ لاندې يا دَ دوو متوازن کلتورونو په سبب کوم نوي لغتونه راټوکيږي. ژبپوهان ئې وړاندې کوي. سوشل ميډيا هم په دې لړ کښې اثرناک کردار لوبوي.

**دَ نوو لغتونو لارې** word formation process

نوي لغتونه په مختلفو طريقو جوړيږي. انګرېزي ژبه کښې دَ نوي لغتونو طريقې ډېرې دي خو هغه ټولې په پښتو کښې نۀ شي په کارېدلی. په پښتو ژبه کښې چې کومې لارې دَ نوو لغتونو دَ پاره استعماليږي. هغه مختصر دا دي.

**تاړي (اشتقاق)** Afixes **يا** Derivation

پښتو ژبه کښې زياتره نوي لغتونه دَ تاړو يا اشتقاق په ذريعه جوړيږي. اشتقاق دَ وروستاړو مختاړو يا سرينه پسينه چې سابقه لاحقه هم ګڼلی کيږي، په واسطه جوړيږي. ځنې چې دَ ټکي په مېنځ کښې ځائ‌ی مومي هغې ته منځ تاړې Infix وئيلی شي. منځتاړې په انګرېزۍ کښې نشته خو په پښتو کښې وجود لري.

"تاړي هغه اجزا دي چې په یوازیتوب کومه مانا نهٔ لري. له نورو کلمو سره یو ځائ‌دی کیږي. او دَ هغوي مانې له تغیر ورکوي."*

**مختاړي** (سابقه) prefixes :

دې ته سابقه یا سرینه هم وئیلدی شي. دا هغه ټکي دي چې دَ بل لغت نه مخکښې استعمالیږي. او په مانا کښې بدلون راولي. په ګرائمري جوړښت باندې اثر نهٔ پرېباسي.

"سرینه او پسینه (لاحقو او سابقو) ادوات هغه دي چې نوم یا صفت سره یو ځائ‌دی کیږي یوه نوې مانا افاده کوي او دَ یوې ځانله کلمې بڼه غوره کوي. "*

دا هغه ټکي دي چې دَ اسم یا صفت سره نوې مانې ته لاره جوړوي. لکه بې فکره، بې خونده، بې لارې، بې کاره،بې مخه، بې سره ، بې شرمه، بې شانه او بې زبانه دغسې ډېر دَ "بې" دَ مختاړي په رنګ مخې ته راځي. دغسې دَ نفي نور مثالونه لکه ناجوړه، ناکاره، نابینا، ناروا، ناوړه، ناخوښه، ناسمه او ناشونې وغېره دَ "نا" سرینه نمونې دي.

دَ اسمِ صفت سره تعلق لرونکي مختاړي دا دي. بدکردار، بد ذات، بد چلن، بد خواه، بد خویه، بد مزاج، بد اخلاقه، بدرنګ وغېره صفتي مختاړي دي. چې دَ بد دَ مختاړي په وسیله جوړیږي. یا نور لکه نیم کښو، نیم کوره، نیم ګړې، نیم زالې، نیم تر او نور.

فعلي صورت کښې لکه پرې وتل، پرې باسل، پرې اېستل، پرې ښودل، پرې کول کښې پرې مختاړي دي.

**وروستاړي**(**لاحقه**) sufix

دَ لاطیني ژبې Profixum نه وتلدی دی چې دَ مخکښې یا اولني مانا لري. دا هغه ادات یا ټکي دي چې دا اصلي ټکي نه پس راځي.

" وروستاړي هغه مورفیمونه دي چې دَ اصلي لغت په وروستۍ برخه پورې نښلي او نوي مورفیمونه جوړوي. "*

دې ته لاحقه یا پسینه هم وئیلدی شي. کوم چې صفتي بڼه لري. لکه سړیتوب، لېونتوب، یواځیتوب، اصیلتوب،سپیتوب، ځلمیتوب، پښغلتوب چې دَ "توب" دَ وروستاړي نه جوړیږي. دغه شان دَ تون نه بېلتون، کوتتون، پوهنتون، درملتون، زېږنتون او نور.

دَ صوتي وروستاړو مثالونه لکه : "ار" نه درزار، چغار،شړار، ټکار، کړپار، ګړنګار،ډزار، غړپار، غپار، غړمبار او نور .

دَ فاعلي صفتونو وروستاړي لکه : زرګر، خټ ګر، جادوګر، پاړوګر، کاریګر، نغمه ګر، ستم ګر، سانده ګر، اهنګر، انځورګر چې دَ "ګر" دَ لاحقې نه جوړیږي.

صفتي او نسبتي ادات چې دَ هغې په وسیله صفتونه جوړیږي. لکه دَ من دَ وروستاړي په وجه دولت من، هنر من، قدر من، شته من یا دَ "وال" لاحقه چې کوم صفتونه جوړوي. په هغې کښې لیکوال، کلیوال، بنګړیوال، هټیوال، اګیوال وغېره.

**منځتاړي** Infix

دا هغه تاړي دي چې دَ دوو کلمو په مېنځ کښې ځائ‌دی کیږي. او په مانا کښې بدلون راولي. په پښتو ژبه کښې منځتاړي ډېر کم دي. لکه برابر کښې بر + ا+بر = برابر ، سر + ا + سر = سراسر

یا مخامخ کښې الف منځتاړدی دی. مخ + ا + مخ = مخامخ ، شا په شا ، مخ په مخ دَ منځتاړو قسمونه دي. منځتاړي په انګریزي ژبه کښې وجود نۀ لري.

**مرکب** compound

دوه یا دَ دوو نه زیات داسې خپلواکه توري چې ځان ځانله مانا لري. دَ هغې په یو ځائدی کېدو نوې ټکي جوړیږي او بیله مانا ورکوي.

"The derivation of new word is also very frequent by compounding two words having independent lexical status."*

ترجمه: دَ نوو ټکو جوړول دَ مرکب په شکل کښې مخې ته راځي. دَ مرکب دغه ټکي ځانله هم مانا لري.

په پښتو ژبه کښې دَ مرکب په ذریعه په ګڼ تعداد کښې نوي ټکي جوړیږي.

ځنې مرکب کښې دوه داسې ټکي راځي چې دواړه اسمونه وي. یعنې دَ دوو اسمونو مرکب وي. لکه کټمل، چې دَ کټ او مل نه جوړ دی او دواړه اسمونه دي. دغسې پښتون کوټ ، درملتون، ووړتون، وولس مل، کار ورځ، احتجاج لیک، ورځ پاڼه، رحمان مېنه، خوشحال مېنه، نړي جال (Internet) ،ښارویتون، زرغونه مېدان، زرلښته، ولسمشر، سر بانډدی، ځان مرګدی وغېره.

د صفتونو والا مرکب چې یو اسم او بل صفت لري. لکه کلک سترګي، سرکوزي، نېک خویه،پوهنتون، وچ غالي،تنګ نظر، پاک زړدی او داسې نور.

دَ مرکب بل قسم داسې دی چې دواړه ئې صفتونه وي. لکه خوش و خرم، سپین سپېځلدی، حُسن جمال.

دَ مرکب بل قسم دَ اسم او فعل په ذریعه جوړیږي. لکه احتجاج لیک، سرکش، چرګ بانګ، ننداړتون او ویر غاړدی وغیره

**مخلوط توري** Hybridization:

دا هم دَ مرکب قسم دی. خو په دې کښې یو لغت دَ یوې ژبې او بل لغت دَ بلې ژبې وي. او دغسې نوې مرکب لغت ترې سازیږي. دا په پښتو کښې دَ نوي لغتونو جوړولو یوه ذریعه ده. او خصوصاً چې کله چاپېریال کښې دوه یا ګڼې ژبې وئیلدی شي. ترکیبي صورت کښې دا دَ دوو مختلفو ژبو دَ تورو دَ یو ځائدی کېدلو په سبب مرکب صورت کښې جوړیږي. یعنې دَ دوو ژبو خپلواکه کلیمې بله خپلواکه کلیمه زېږوي.

لکه اېټمي وسله، قومي اسمبلي، صوبائي اسمبلي، ټېکس وصولي، فلم ساز، اېټمي جنګ پښتو ډیپارټمنټ، خېبر بازار په دوي کښې یو انګریزي او بل پښتو توري دي.

**فارسي نه مخلوط توري**:

پاک زړي ، سر ټکي، سر تېر، سړي خور، سیال سیالي، غزل بول، قلم وال، کار کړن، کم پانګي

په دې کښې یو پښتو بل فارسي توري دي.

دغه شان دَ عربۍ نه مخلوط توري دا دي:

کتابتون، صبر ناک، قلم یار، قوم خوښي، کتاب پوهنه، اهتمام غونډه او نور.

کتاب، صبر، قلم، قوم، اهتمام عربي دي او دا نور پښتو توري دي.

**تکرار**: Reduplicaiton

د تکرار مانا ښکاره ده چې یو ټکدی بیا بیا پرله پسې راشي. دَ دې غرض دَ مبالغې یعنې یو څیز دَ اصل نه زیات ښودلو دَ پاره وي یا دَ تاکید په غرض وي. یا دَ تسلسل او دوام په غرض وي. دَ وېش او خصوصیت دَ پاره هم راځي.

> "Reduplication is a morphological process in which either the root, systemof a word or a part of it is repeated… Reduplications are highly infourmal or familiar compounds with the repetion of similar sounds."*

ترجمه: تکرار یو نحوي عمل دی چې په هغې کښې دَ یو لفظ وړمبۍ مېنځنۍ یا څۀ حصه بیا بیا راوړلدی شي. تکرار عموماً په صوتي مرکباتو کښې زیات استعمالیږي.

دَ دې انګرېزي مثالونه Flip –flop, zig-zag

دَ تکرار توري په پښتو کښې ډېر په نظر راځي. او دَ انګرېزۍ چې کوم برني مثالونه دي. دَ دې په ښه توګه دَ کمي زیاتي بغېر هو بهو لفظ بیا بیا تکراریږي. څنګه چې دَ ویکي پیډیا تعریف نه ظاهریږي.

Reduplication is linguistics is a morphological process in which the root or stem of a word(or part of it) or even the whole word is repeated exactly or with slight change.(Wikipedia)

ترجمه: په لسانیاتو کښې دا یو ګرائمري عمل دې چې په هغې کښې بنیاد یا دَ ټکي مېنځ یا څۀ حصه یا لږ غوندې بدلون په شکل کښې یا په بالکل هم په خپل اصلي صورت کښې بیا بیا راځي.

دَ پښتو دَ تکرار هغه مثالونه چې یو ټکدی په اصل حالت کښې بیا بیا راځي. دا دي:

نري نري یا غټ غټ، شپه شپه، خپل خپل، سپین سپین، رنګ رنګ، دنګ دنګ، ټنګ ټنګ، همېشه همېشه، بیا بیا ، کوز کوز، پاس پاس، قلم قلم، زر زر، هل هله، نژدې نژدې، لرې لرې، سپک سپک، درانهٔ درانهٔ، وارهٔ وارهٔ، زارهٔ زارهٔ، جینکۍ جینکۍ، لښکرې لښکرې، ، کاره کارهٔ، خوار خوار، مارهٔ مارهٔ، بس بس، را را. تنګ تنګ، سل سل، تراخهٔ تراخهٔ، خوارهٔ خوارهٔ، تلهٔ تلهٔ، ولاړ ولاړ، روغ روغ، ایرې ایرې، ډول ډول، وبهٔ وبهٔ، څیرې څیرې، لمبه لمبه، ښهٔ ښهٔ، بد بد ، دغه شان صوتي یا دَ اواز په جوړښت لفظونه لکه غپ غپ، چغ چغ، شړ شړ، درز درز، ډب ډب، ډز ډز، کړنګ کړنګ، غرب غرب، شړپ شړپ، کړس کړس، بنګ بنګ، میاو میاو، دغسې دَ لږ بدلون سره سړي مړي، لرګي مرګي، کش مکش، دېوال مېوال، انې بانې، دعوه معوه، اخلې پخلې، ادل بدل، تلهٔ راتلهٔ، دروغ مروغ، دنګ منګ، درز مرز، پاس ماس، تقدیر مقدیر، خپل مل، او هلې ځلې وغېره دي.

**اختصار حذف**Cliping

دا دَ لغت جوړونې داسې طریقه ده چې په دې کښې دَ یو لفظ نه څهٔ حصه کمولدی شي. دغه لنډیز یا اختصار دَ نوي کلمې سبب جوړیږي.

"کله چې یو یا دَ یو نه زیات سېلاب Sylable د یو لفظ نه کم کړدی شي او هغه مختصر کړدی شي. اختصار Cliping ګڼلدی شي."*

په اختصار کښې دَ یو لفظ نه یو یا زیات سېلابونه کمولې شي. او نوې لفظ جوړ شي. خذف هغه دي چې دَ یو توري دَ غورځولو او له مېنځه وړلو په واسطه رامېنځ ته کیږي لکه پوزه نه پزه *

انګرېزۍ کښې دَ خذق یا اختصار مثالونه دَ telephone نه Phone ، د Photograph نه Photo او دَ Examination نه Exam وغېره دي.

په پښتو ئې نمونې دَ خوشحال بابا دَ کلام نه دا دي.

چې په وخت ئې دَ بهار عشرت په
مۍ دی
بادشاهي ئې مبارک شه لکه کدی
دی *

په دې شعر کښې"کدی" دَ کېخسرو اختصار دی.

عمر دی ډېر شي له جم له عمره
په تا به وشي دَ مرګ طیشونه

په دې شعر کښې جم دَ جمشېد اختصاري صورت
دی.

چې څوک دنیا لري په ځان ئې نۀ
خوري
دَ کورغه تورې خاورې دي وخوري

"غه" دَ هغه مختصر شکل دی.

**مخفف یا سر نامینه**Acronym

دا دَ نوي لغتونو جوړلو هغه ذریعه ده چې په دې کښې دَ یو توري نه اولنۍ حرف اخیستلی شي. دغسې دَ ګڼو لفظونه اولني حرفونه نوې لفظ جوړوي.

یعنې دَ څو لفظونو وړومبي حرفونو نه جوړیږي. فارسي او اردو کښې سر نامیه بللدی شي.

Acronym is the proces whereby a word is formed from the inicials or beginning segments of a succession of words. *

ترجمه: مخفف دَ لغت جوړونې هغه سلسله ده چې په هغې کښې دَ یو ټکي دَ ابتدائي حرف یا حصې نه لفظ جوړولدی شي.

انګریزۍ کښې دَ دې مثالونه دا دي.

NATO (north atlantic treaty organization), CALTEX (Standard Oil Company of California and taxas), UNO, UNESCO,

پښتو کښې ئې مثالونه ډېر نۀ دي. خوبیخي ورک هم نۀ دي.

لکه س ب ب ( سیده بشره بېګم) ، ق م، ( قبل مسیح)، ه، ش ( هجري شمسي) م ر شفق ( مشتاق الرحمان شفق)، ایم ایس اباسین (مسلم شاه اباسین). م ا زیار (مجاور احمد زیار)

ه ل ( هجري لمریز) م ز (مخ زېږد)، اګسا (دَ افغانستان ګټې ساتونکي اداره)، سجب (سعد الله جان برق)، قام (قلم ادبي جرګه)، پام(پښتو ادبي محفل) وغېره.

**مستعارې ترجمې** loan Translation or Calque

مستعارې ترجمې عموماً دَ اصطلاحاتو دَ ترجمې په شکل کښې راځي. انګریزي او نورې بین الاقوامي ژبې چې دَ سائنس، ټیکنالوجي او کمپیوټر په میدان کښې نوې نوې تجربې کوي او نوي اصطلاحات زیږوي. دغه اصطلاحات او دَ دغه څیزونو استعمال دَ ټولو ملکونو او قومونو ضرورت وي. اکثر قومونه دغه اصطلاحات دَ اسانۍ دَ پاره خپله ژبه کښې ترجمه کوي چې مستعارې ترجمې ترې پیدا کیږي.

> " په نوو لغتونو کښې هغه لغتونه هم شامل دي چې دَ یوې بلې ژبې څخه اخستل کیږي. دا ډول لغتونه دَ مختلفو عواملو په سبب یوې ژبې ته ور ننوځي. او تر هغه وخته پورې دَ استعمال وړ وي تر څو چې دَ مخې نۀ وي غړېدلي."*

دغسې احمد یاسین حساني لیکي:

> "Neo logism can be either a loan word in the form of a direct loan, or loan Translation, or a newly coin term, either morphologically new word or by exisiting word a new semantic content."*

ترجمه : نیولوګېزم دَ مستعار یا مستعارې ترجمې په شکل کښې یا نوې اصطلاح یا دَ جوړښت په لحاظ نوي ټکي اؤ یا دَ زوړ ټکي په نوې مانه کښې استعمال ته وئیلی شي.

نوي ټکي د مستعار او مستعارې ترجمې شکل کښې هم مخې ته راځي. ځنې لغتونه داسې وي چې مونږ ته نوي ښکاري خو په اصل کښې نوي نۀ وي. دَ مطالعې او دَ علم دَ کمي په وجه نوي برېښي. نوي لغتونه عموماً دَ نوې افادې دَ پاره دَ صحافت او میډیا لخوا خوریږي. او دَ نوو لغتونو دَ جوړولو دَ مرحلو مطابق(ترکیب، مخلوط،

اختصار، او اشتقاق) وي خو دَ دې تورو قبوليت دَ عوامو په ذريعه کيږي. کوم ټکي چې اولس قبول کړي هغه دَ ژبې حصه ګرځي.

پښتو ژبه کښې دا صلاحيت موجود دی چې دَ نورو ژبو کښې هم په خپله لمن کښې ځايولی شي او نوي اصطلاحات هم قبلوي. اصطلاح دَ پوهانو له خوا په صلاح مشوره جوړولې شي او دَ هغه څيز مستقل نوم ګرځي.

دَ يو علمي نظرئې، تصور، واقعې، کېفيت يا نتيجې په بليغه او مختصره توګه دَ لفظونو په شکل کښې بيانول اصطلاح بللې شي. هره شعبه ، علم يا ايجاد ، اختراح يا تصور دَ ځان سره سره نوې نوم هم راوړي. څنګه چې يو ماشوم پېدا شي او دَ يو نوم خاوند شي. دغسې تصورات اونوي څيزونه هم دَ يو اصطلاحي نوم سره خپل حېثيت او وجود ژوندې ساتي.

دا قسم مستعارې ترجمې په پښتو او اردو ژبه کښې شتون لري. اردو کښې خو مقتدره قومي زبان دَ هرې شعبې دَ پاره اصطلاحات وضع کړي. او ترجمه کړي دي. دغه کار په سرکاري سرپرستۍ کښې شودی. خو پښتو کښې په انفرادي او شخصي کوشيشونو نوي نومونه او اصطلاحات ترجمه شو يا جوړ شوي دي.

لکه :

تور لاس Black Hand، سپينه ماڼۍ White house، اروه پوهنه psychology، اېټمي بټۍnuclear Reactor ،ازاد کړ Indipendent morphem، اند پوههIdeology ،اواز پوهه Phonemic ، اوب پوهنهhydrology،ايرنۍAerh،بانکي څانګه Bank Branch، برېښليک Email،بړاس مشين Steam engine،بوټپوهنه Botony ، پاڼليک Footnote

په شا تمبونهPush Back، تت و تېزDim ful ، تيار خورParacitical، بشري حقونهHuman rights، نړي تړولنه *International Organization،

دغسې فارسۍ نه هم دَ ترجمې رنګ لرونکي ټکي شته.

لکه

| | | | |
|---|---|---|---|
| بنده کوڅه | بن بست، | پردي پال | بېګانه پرور، |
| بنستې پال | بنیاد ګر | پېلګر | اغاز ګر |
| بیا پیبنې | تکراري | تور نمري | سیاه پوش |
| بیا رغاونه | باز سازي | ځان وژوه | خودکشي |
| بېدیا مېشت | باد یا نشین | | |

عربي نه مستعارې ترجمې مثالونه دا دي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| تېرون ونډه (تېکس) | حق العبور | درملپوهنه | علم الادویه |
| چار | عمل | دوه مانیز | ذومعني |
| ځواک مېچ | میز القوه | ډبرین | (منجر) معجر |
| خوځندي | حرکت | ډېر ګټي | کثیر الاستفاده |

خوځون تحریک ډېر لیکي
کثیر التالیف

درملګر طبیب رغاونه
اعمار، تعمیر

زیاتون اضافت زیږ غاړې شدید
الحن

ژباړه ترجمه

ویي رغاونه Coinag

لغت جوړونه په هر دور کښې ډېر اهم کردار لوبوي او د ژبې دَ پر مختګ سبب ګرځي. هر کله چې ویونکي یا لیدونکي دَ اظهار دَ کموت سره مخ شي نو په شعوري یا غېر شعوري طریقه دَ خپل عرض ادا کولو دَ پاره توري جوړوي. دا هغه توري وي چې دَ دې نه وړاندې په ژبه کښې استعمال شوي نۀ وي او په اول ځل مخې ته راغلي وي.

او کله داسې هم وي چې ټکي موجود وي خو دَ نوې معنې دَ پاره استعمال شي. دَ دې اصطلاح خو دومره زړه نۀ ده خو رشته ئې دَ ژبې دَ زېږون سره سمه را روانه ده. کۀ مونږ دَ پښتو ژبې وړومبې بشپړ کتاب خېرالبیان وګورو یا دَ بایزید انصاري دَ علم رساله ګورو نو هغې کښې هم نوي ټکي په نظر راځي.

"دَ بایزید انصاري په خېرالبیان او دَ علم رساله کښې ډېر ټکي شته چې دَ پټې خزانې په لرغوني اثارو کښې نۀ شي موندلې او داسې ټکي هم شته چې صرف تر هغۀ پورې محدود پاتې شوې دي."*

اودسي (اودس لرونکي) پېژنګلي( معرفت) سپکه پليتي (نجاست خفيفه) سپېروبي(ودی) شرم ځائی( عورت) کښلې نامه (عمل نامه) کړندر (شمېر) هوس وبه (مزي)

دغسې دَ خوشحال بابا په کلام کښې هم نوي ټکي په نظر راځي. لکه دَ برجونو نومونه. تله( برج ميزان)، غوايه (برج ثور)، لړم (برج عقرب)، لينده( برج قوس) ماهي(برج حوت)، مزري (برج اسد)، ورغومې (برج جدي)، وږدی (برج سنبله)، دغسې نور لکه نيمريځی(دَ کچه غرمې ډوډۍ يا چائی) يا نيک فرجامې، ګل اندامې، فېل اندامې وغېره او په جديد دور کښې الوتکه، پوهنتون، روغتون، توغندی، ننداړتون، ښوونځي، ارام ځائی، وروستاړي، مختاړي، مېنځ تاړي، زيار کښ، اورلګيت، ژب پوهان، ويي رغاونه، يون ليک، ليک لار، خپل واک او نور.

نوي ټکي او اصطلاحات دَ وخت ضرورت وي. څومره چې دنيا په سائنسي، ادبي او علمي لاره ترقي کوي هومره ژبې ته نوي څيزونه او نومونه راځي او دَ دغه څيزونو دَ اظهار دَ پاره نوي لغتونه جوړېږي. دا دَ اولس دَ پوهې او دَ ژبې دَ غني کېدلو سبب وي. او کۀ داسې او نۀ کړې شي نو دَ جديد دور انقلابي ارتقاء به دَ ژبې سوچه توب دَ مخې يوسي. دَ وخت تقاضه او دَ ژبې ژوند هم په دې کښې دی چې چې نوي لغتونه جوړ شي او په ولس کښې عام شي.

## حوالې او حاشيې

- رښتين ، صديق الله، پوهاند ،پښتو ګرائمر، پېښور، يونيورستي بک اېجنسي،جون ۲۰۱۴ء، مخ ۴۰۹.

http://www.slideshare.net. Neologism as a linguistic phenomena in mass media

- صديق، روهي، سر محقق، نوي لغتونه، مشموله کره کتنه، مؤلف افضل ټکور، دولتي مطبعه، کال ۱۳۶۵ هـ ش، مخ ۸۳.
- زبان اور لسانیات کی مباحث، مرتب محمد ابو بکر فاروقی، سٹی بک پوائنٹ،2016ء، ص ۱۲۹ – ۱۷۰.
- خدمتګار، بختاني، عبدالله جان، سر محقق، پښتو پالنه او ژبڅېړنه، پېښور، دانش خپرندويه ټولنه، ۲۱ مارچ ۲۰۰۵ء، مخ ۱۷۳.
- جواد ہمدانی، ڈاکٹر، ایران میں فارسی بحثیت قومی زبان، مشمولہ قومی زندگی میں قومی زبان کا مقام، اسلام آباد، مقتدرہ قومی زبان، صفحہ ۱۲۱ – ۱۲۲۔
- Yousafzai, Mohsin Khan, A linguistic investigation of Urdu media, language in India, www.linguageinindia.com Volume 13 June 2013. Page 822.
- همدغه اثر، مخ ۸۲۱
- هوتک، قاضي احمد شاه، پښو ګرائمر، احمد هوتک خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۳ هـ ش، مخ ۶۹.
- رښتين ، صديق الله، پوهاند ،پښتو ګرائمر، پېښور، يونيورستي بک اېجنسي،جون ۲۰۱۴ء، مخ ۳۸۹.
- تڼيوال، ملا جان، ژبه او ټولنه، جلال آباد، مومند خپرندويه ټولنه، ۲۰۱۵ء، مخ ۱۳۵.

- Islam, Riaz Ahmad, the morphology of loan words, school of English lituratre linguge and linguistics, new castle University, 2011, Page 105.
- Tahira Khanam, sarwar Khan, comparative of new lexical items in poerty of sufi tabssam and levis carrel languge in india,vol. 11, 7th july 2011, page 175.
- Kristyna Kubava, neologism in English, thesis, Deptt of Engilsh and Amarican Studyes, 2009, p 16.
- رښتین ، صدیق الله، پوهاند ،پښتو ګرائمر، پېښور، یونیورسټي بک اېجنسي،جون ۲۰۱۴ء، مخ ۴۰۳.
- ارمغان خوشحال، مرتبه سید رسول رسا، پېښور، یونیورستي بک اېجنسي، ۲۰۰۹ء، مخ ۸۲
- Nguyen thi lanh, contrastive analysis word formation in English and veitnamese, ho chi minh, city University of Pedagogy, p 8.
- تڼیوال، ملا جان، ژبه او ټولنه، جلال آباد، مومند خپرندویه ټولنه، ۲۰۱۵ء، مخ ۵۳.
- Yasin, Ahmad, Hasani, Ibrahim, college of Arts, Tokret, Tikret Univeristy Department of Translation. Page9
- پاچا، سید عبدالله، د سیاسي اصطلاحاتو قاموس، کابل، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۵ء، مخ ۲۵.
- فقیر، فقیر محمد، دَ بایزید انصاري نیو لوګېزم، مشموله پښتو، پښتو اکېډیمي، جنوري – دسمبر ۲۰۱۴ء، مخ ۱۵۵.